# ثوک چې: لا إله إلا الله، وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد، وهو على کل شيء قدير، په ورځ کې سل ځلې ووايي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "ثوک چې: لا إله إلا الله، وحده لا شريک له، له الملک وله الحمد، وهو على کل شيء قدير، په ورځ کې سل ځلې ووايي دا به د لسو غلامانو د آزادولو برابر وي، او د هغه لپاره به سل نيکۍ وليکل شي، سل بدۍ به ترې لرې شي او په هغه ورځ کې به ورته تر بېگا پورې د شيطان پر وړاندې مانع وګرځي، او هیڅوک به د هغه په څېر دغوره عمل سره را نه شي، مګر هغه ثوک چې تر دې یې هم زيات عمل کړی وي.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي چې چا: (لا إله) نشته حق اله او معبود ( إلا الله، وحده لا شريك له) مګر یو الله دی چې شريک نه لري؛ نه په الوهيت، نه په ربوبيت او نه په خپلو نومونو او صفاتو کې.(له الملك) هغه لره ټول واک او تدبير دی، (وله الحمد) او هغه لره ستاينه ده په هر هغه څه کې چې پیدا کړی او اندازه کړی یې دی، (وهو على كل شيء قدير) او هغه پر هر څه قادر دی، نه کوم رقيب لري او نه مدافع، او هغه چې څه ونه غواړي هغه نه کيږي. ثوک چې دغه ذکر په ورځ کې سل ځلې ووايي او تکرار یې کړي، نو د الله په نزد د هغه لپاره لکه د لسو غلامانو د آزادولو اجر دی، او پدې سره به ورته سل نيکۍ او په جنت کې سل درجې وليکل شي، او سل بدۍ به ترې لرې شي، او دا به ورته د شيطان پر وړاندې ساتونکې او دفاعي قلعه وي او له شيطان او د هغه له ملګرو څخه به یې ساتنه کوي، تر دې چې لمر ډوب شی او بیګا داخل شي، د قيامت په ورځ به د ده په څېر بل هیڅوک غوره نه وي، مګر هغه ثوک چې لده څخه یې زيات عمل کړی وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65905

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee